# خبـــــرپا نـــه

# د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام

۱۰ چنګاښ ۱۳۸۵

## افغانستان او د بشري پراختيا رپوټونه

***همايون حميد زاده، د پاليسي او بشري پراختيا مرکز ناظم***



د اسيا د ارام سمندر سيمې د بشري پراختيا رپوټ، چې د ۱۳۸۵م کال د چنګاښ پر ۸مه خپور شو، د افغانستان لپاره له دې نه مناسب وخت کې نه شو راوتلی.

دغه رپوټ چې د "سوداګرۍ له بشري پراختيا سره" تر نامه لاندې خپور شوی د سوداګرۍ او اقتصادي ودې وروستۍ پرمختياوې ازمويي او پر بشري پراختيا، په ځانګړې توګه د سيمې پر غريبو هېوادونو او د هغوی پر بې وزلو خلکو يې اغيزې ارزوي.

په دغه رپوټ کې همدارنګه ټينګار شوی چې هيڅکله هم نه سوداګري او نه اقتصادي وده په خپل ذات کې د پای ټکی کېدای شي، بلکې د بشري پراختيا او د بې وزلي او محروميت پر خلاف د جګړې لارې چارې دي. رپوټ پر مخ ځي او د سيمې هېوادونو ته د نړيوالې سوداګرۍ د نوي سخت چاپريال له ننګونو سره د ځان برابرولو لپاره لاندې اته ټکيزه اجنډا وړاندې کوي:

- د سيالۍ لپاره پانګه اچونه
- د سوداګرۍ د ستراتيژيکو تګلارو خپلول
- کرنې ته بيا پام اړول
- له بې کارۍ سره د مل ودې پر وړاندې مبارزه
- د ماليې د يو نوي رژيم تيارول
- د اسعارو د تبادلې ثابت او واقعي نرخ ساتل
- پر ګڼ اړخيزو اړيکو دربدل
- له ګاونډيانو سره همکاري

د افغانستان په شرايطو کې د غه رپوټ د افغان دولت د سيمه ييزې همکارۍ له هغه چوکاټ سره سر خوري چې د پراختيا لپاره د سوداګرۍ، ترانزيټ، پانګه اچونې، د کار ګرو د تبادلې او پر سيمه ييزو سرچينو د تکيې له لارې له پرمختلونکي سيمه ييز اقتصاد سره د افغانستان د يو کولو لپاره طرحه شوې دی. د افغانستان په لنډمهاله ملي پراختيايي ستراتيژۍ کې همدارنګه سيمه ييزو او نړيوالو بازرانو ته لاس رسېدنه، هغه ډول چې په سيمه ييز رپوټ کې تر بحث لاندې نيول شوې، د افغانستان د اقتصادي ودې او سياسي ټينګښت (ثبات) لپاره د يوې چارې په توګه په ګوته شوې ده.

د دغه سيمه ييز رپوټ له اهميت او مناسبوالي سره سره د بشري پراختيا له مفاهيمو او دود سره د افغانستان اړيکې نوې نه دي. په ۲۰۰۳م کال کې د ملګرو ملتونو پراختيايي ادارې او د افغانستان حکومت هوکړه وکړه چې د هېواد د لومړي ملي بشري پراختيايي رپوټ د جوړولو لپاره به مشارکتي بهير پيلوي. دغه رپوټ د "امنيت په انساني بڼه کې: ننګونې او مسؤوليتونه" تر نامه لاندې له دې پيغام سره راووت چې " د دوديزو امنيتي ګواښونو په پرتله بې وزلي، بې کاري او نامساوات د افغانانو د ورځني ژوندانه پر وړاندې ستر ګواښونه دي.

د افغانستان د ۲۰۰۴م کال د لومړي بشري پراختيايي رپوټ د بريا په تعقيب، د ملګرو ملتونو پراختيايي ادارې او کابل پوهنتون په کابل پوهنتون کې د پاليسي او بشري پراختيا مرکز جوړول پيل کړ. د افغانستان د پرمختګ په يو مهم پړاو کې، د ۲۰۰۴م کال بشري پراختيايي رپوټ هغه ننګونکې په ګوته کوي چې د يو ملي رپوټ ماورا د بديلو تګلارو د څېړنو د ترسره کولو لپاره د افغاني کارپوهانو او بنسټونو د ثابتې څېړنې او شننې پر وړاندې پراته دي. دغه مرکز چې د افغانستان د لوړو زدکړو په يوې وتلې ادارې کې ځای لري، له زده شوو درسونو څخه په ګټې اخيستنې سره، د بشري پراختيا او په مجموع کې د تګلارو د څېړنې په برخه کې د څېړنې، تبليغ او ښوونې د اوږدمهال ظرفيت رامنځته کولو ملاتړ کوي.

د پاليسي او بشري پراختيا مرکز له کابل پوهنتون سره په ګډه اوس مهال د ۲۰۰۶م کال د دويم ملي بشري پراختيا رپوټ په تيارولو کې بوخت دی.

**د اسيا د ارام سمندر سيمې د ۲۰۰۶م کال د بشري پراختيا د رپوټ په هکله د لازياتو معلوماتو لپاره "www.undprcc.lk" وګورئ.**

## په دې ګڼه کې


د افغانستان د اشارې ژبه د معلولينو د ملاتړ د ملي پروګرام په برکت ښه پر مخ ځي. ۲

ځوانان او ولسواك حکومت د اجنډا په سر کې ۲

د ملګرو ملتونو د پراختيايي ادارې لوړپوړو رئيسانو رسنيو ته د خپل کار په اړه معلومات ورکړل ۲

معلولين خپل کار پيلوي ۳

تخار ولايت د ډاياګ د اصلي پړاو ګټونکی شو ۳

## د افغانستان د اشارې ژبه د معلولينو د ملاتړ د ملي پروګرام په برکت ښه پر مخ ځي.

د افغانستان د اشارې د لومړۍ جامع ژبې د لاپراختيا کار د ملګرو ملتونو د پراختيايي اداري د معلولينو د ملاتړ د پروګرام او د برتانيې د نادولتي مؤسسې "سرو" په مرسته په ښه توګه پر مخ ځي.

د جون په وروستيو دوو اونيو کې د افغانستان له ګوټ ګوټ څخه ۴۰ هغه کسان چې غږ نه اوري په کابل کې سره راټول شوي وو څو د هغو اشارو په شمېر کې ډېروالی راولي چې د کڼو په ژبه کې کارول کېږي.

د افغانستان د کڼو ملي ټولنې لا له وړاندې ۲۰۰۰ اشارو ته پراختيا ورکړې او په کابل کې د دې وروستي ورکشاف موخه دا وه چې د دغو اشارو شمېر ۴۰۰۰ ته ورسول شي او ګردود (ګرامر) ته په کې ځانګړې پاملرنه شوې وه.

اټکل کېږي چې په افغانستان کې ۴۰،۰۰۰ داسې کسان شته چې غږ نه اوري او له دوی څخه ۱۰۰۰۰ کېدای شي ماشومان وي. په دغه سيمنار کې له بلخ، کندهار، هرات، ننګرهار، لوګر، غزني، تخار او کابل څخه خلکو برخه اخيستې وه.



## ځوانان او ولسواک حکومت د اجنډا په سر کې

د ولسي جرګې مرستيالې رئيسې او د ځوانانو مرستيال وزير د ملګرو ملتونو له پراختيايي اداري او نورو ادرو سره په ګډه يو نوښت پيل کړ چې د پام ټکی به يې دا پوښتنه وي چې د افغانستان د ځوانانو د ملاتړ لپاره بايد کومې هڅې ترسره شي.

د جون په مياشت کې د پارلمان مرستيالې رئيسې اغلې فوزيه کوفي او د ځوانانو مرستيال وزير ښاغلي تيمورشاه اچکزي د دوو غونډو مشري وکړه چې موخه يې د "ځوانانو او ولسواک حکومت؛ کوم نوښتونه لا له وړاندې ترلاس لاندې نيول شوي او کومې اضافي ساحې ملاتړ ته اړتيا لري" موضوع په هکله د نظريو راټولونه وه.

د ځوانانو وزير به يوه وړه کاري ډله جوړه کړي څو يو لړ مسئلې تر غور لاندې ونيسي. يوه به يې دا وي چې داسې يو کاري پلان جوړ شي چې له مخې يې د ځوانانو يوه ستراتيژي برابره او هغه ممکنه سرچينې په ګوته شي چې د دغې ستراتيژۍ له پراختيا سره مرسته وکړي.

د ولسي جرګې د پکتيکا استازې اغلې غرغښتې چې ۲۶ کاله عمر لري او د پارلمان تر ټولو ځوانه غړې ده د نورو مؤسسو د استازو تر څنګه به په دغه کاري ډله کې برخه واخلي.

د ځوانانو نوښت د ملګرو ملتونو د پراختيايي اداري د مدني ټولنې د پياوړتيا د راتلونکې پروژې په چوکاټ کې راځي. په دغه چوکاټ کې د افغان ځوانانو د ظرفيت د ځواکمنولو وړاند وينه شوي څو غږ يې واورېدل شي او د تګلارو جوړولو او ولسواك حکومت رامنځته کولو په بحثونو کې برخه واخلي. د ملګرو ملتونود پراختيايي اداري پروګرام به د نورو شريکانو، لکه د ملګرو ملتونو د هابيتات د مؤسسې د ځوانانو د پراختيايي پروژې، د اوسنيو کارونو مل وي.

## د ملګرو ملتونو د پراختيايي اداري لوړپوړو رئيسانو رسنيو ته د خپل کار په اړه معلومات ورکړل

د وتليو ورځپاڼو، خبري ادارو، ټليويزيون او راډيو لږ او ډېر ۲۵ کارکوونکو په هغه ناسته کې برخه واخيسته چې د ملګرو ملتونو د پراختيايي اداري درېيو مرستيالو رئيسانو په کې د خپل کار په اړه معلومات ورکړل.

آغلې ستاره د ولسواکي راوستلو او د مدني ټولنې د ځواکمنولو پروګرام مسؤوله، ښاغلي يونس پاياب د پايښتونکي معيشت د ودې مسؤول او ښاغلي عبدالباري د دولت جوړونې او د حکومت د ملاتړ د پروګرام مسؤول په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پراختيايي اداري د کار مهمې ساحې په ګوته کړې او د غرمې د ډوډۍ پر مهال يې په يوه غيري رسمي فضا کې خبريالانو ته ځوابونه وويل.

په دغه ناسته کې د خبرونو د مسؤولو مديرانو، رئيسانو او خبريالانو په ګډون د افغانستان د ډېرى مهمو خبري رسنيو استازو، چې له نړيوالو مؤسسو څخه خبرونه راټولوي او د پراختيا او بيارغونې خبرونه تعقيبوي، برخه اخيستې وه.

## معلولین خپل کار پیلوي

د ملګرو ملتونو د پراختیايي اداري د معلولینو د ملاتړ ملي پروګرام هڅه کوي چې د معلولینو لپاره د کار موندلو او په خپله د خپل ژوند تیرولو مواقع رامنځته کړي.

د معلولینو د ملاتړ ملي پروګرام د "افغاني وړتیا" پر نامه یو نوښت په لار اچولی چې معلولینو ته د کار موندنې په برخه کې د خصوصي سیکتور برخه اخیستنې ته وده ورکوي. د دغه نوښت موخه دا ده چې معلولین په ټولنه کې میشت شي او مدني ټولنه د معلولینو د معلولیت پر ځای د ددوی وړتیاوو ته پام واړوي. د کوکاکولا کمپنی د لسو غرفو د ورکولو له لارې د معلولینو د ملاتړ له ملي پروګرام سره یو ځای شوی ده، چې په دغو غرفو کې به معلولین د ورځنی کاروني توکي لکه د ټیلیفونو کارتونه، بیسکټ، شیرني او مشروبات پلوري. د شهیدانو، معلولینو او ټولنیزو چارو په وزارت کې د ځانګړیو مراسمو په ترځ کې د غرفو د ویشلو لپاره پچه واچول شوه. د دغه وزارت مرستیال وزیر د کابل د شلو حوزو د معلولینو د نومونو له کڅوړو څخه شل ګټونکي راوویستل چې دوی به بیا سره جوړه کېږي خو له دغو غرفو څخه، چې هره یوه یې ۷۰۰ ډالره ارزښت لري، کار واخلي.

د غوره کولو د بهیر د روڼتیا لپاره له شلو واړو حوزو څخه یو یو معلول کس د پچې د خارنې لپاره راغوښتل شوي وو. په پچه کې له هغو څلور سوو کسانو څخه، چې اړ پېژندل شوي وو، شل بختور کسان غوره شول.

د شهیدانو، معلولینو او ټولنیزو چارو وزارت مرستیال وزیر د خپلو خبرو په ترځ کې وویل چې "ډیر د خوښي ځای دی چې د یوې مهمې پروژې کار پیلوو. که څه هم دا یو وړوکی کار دی خو ډیر مهم دی. د معلولینو ستونزه ډیره لویه ده. د معلولینو یو شمېر د ازادۍ په لار کې معلول شوي او اوس یې ستره ستونزه بې کاري ده."

د شهیدانو، معلولینو او ټولنیزو چارو په وزارت کې د ملګرو ملتونو د پراختیايي اداري تخنیکي سلاکار روډي روډریګویز وویل چې "د دغه پروګرام موخه دا ده چې معلولین د نورو خلکو په څیر ټولنه کې میشت شي."



نجیب الله فهیم، د شهیدانو، معلولینو او ټولنیزو چارو مرستیال وزیر د بختورو ګټونکو نومونه راباسي

## تخار ولایت د ډاياک د اصلي پړاو ګټونکی شو

د فرخار په ولسوالۍ کې د چنګاښ پر لومړۍ نېټې د وسلې له سپارلو سره، تخار د ډاياک د اصلي پړاو په لومړۍ ډله (کاپیسا، هرات، فراه، تخار او لغمان) کې تر ټولو مخکې شو.

د دغو مراسمو په پای کې د ناقانونه وسله والو ډلو اتو مشرانو ته د ډاياک بهیر ته د غاړې کېښودو تصدیق لیکونه ورکړل شول. د ډاياک د اصلي پړاو په بهیر کې قومندانانو او له ناقانونه وسله والو ډلو سره تړلیو کسانو ته دیرش ورځې ورکول کېږي چې په خپله خوښه خپلې وسلې وسپاري، ورانديز له دي چې حکومت دوی دغه کار ته اړ کړي.

قومندانان په خپله خوښه د خپلو وسلو د سپارلو له لارې نه یوازې د وسلو قانون ته، چې په افغانستان کې د وسلو د ساتنې چارې تنظیموي، غاړه ږدي بلکې د ډاياک د پروګرام، چې په افغانستان کې د سولې د ټینګښت، د قانون د واکمنې او سوکالي موخه لري، فعاله ملاتړ کوي.

د ۱۳۸۴م کال د چنګاښ په میاشت کې د ډاياک د پروګرام له پیل راهیسې په تخار ولایت کې د وسلې راټولولو ډلو ته ۲،۳۵۶ میله درنده او سپکه وسله سپارل شوې چې ۸۷ فیصده یې د کارولو وړ ده او کېدای شي د افغانستان د ملي اردو او پولیسو ځواکونو ته وسپارل شي.

راغونډې شوي وسلې به باالاخره په پولې چرخي کې د راغونډو شوو وسلو مرکزي ډیپو ته وسپارل شي، چیرې چې د افغان ملي اردو تر کنټرول لاندې ساتل کېږي. د کارولو وړ وسل له پاکولو وروسته د ملي اردو او پولیسو پر لومړیو لیکو باندې ویشل کېږي او هغه چې د کارولو وړ نه وي له منځه وړل کېږي.

د ډاياک بهیر د ۱۳۸۴م کال د چنګاښ پر ۲۰مه نېټه پیل شو. د ۱۳۸۵م کال د چنګاښ تر ۳مې نېټې پورې د افغانستان د نوي پیل د پروګرام د وسلو راغونډولو ډلو ته ۲۳،۶۷۵ میله وسله او ۲۰،۹۱۵ صندوقو کې بندې او ۱۹۴،۸۸۶ له صندوقو وتلې مرمۍ سپارل شوي دي چې دغه شمېرې د نومړي پروګرام له خوا هم منل شوي دي.



د تخار والي تصدیق لیکونه ویشي



د لازیاتو معلوماتو لپاره:
ډومنیک میډلي، د خبري رسنیو د اړیکو مسوول
+۹۳ (۰) ۷۰ ۶۹۱ ۹۸۵
dominic.medley@undp.org
عزیز الرحمن ګلبهاري، د اطلاعاتو او نشراتو مسوول
+۹۳ (۰) ۷۹۹ ۳۷۰ ۵۶۷
aziz.gulbahari@undp.org